## دتصوف ځانګړني :

خېړونکی: پوهنوال الکوزی تایب

**څلورمه برخه:**

رسول الله (صلی الله علیه وسلم )مؤمنو مسلمانانو ته د عبادت لارې چارې ورپه ګوته کړې دي. په حديث شريف کې راغلي دي:
ترجمه " تاسو داسې لمونځ وکړئ لکه ما چې په لمونځ کولو ګورئ. "

د همدې مطلب د ښه وضاحت لپاره د حکمتيار صيب له ليکنې دا برخه را اخلو، ده صوفيانو ته په خطاب کې داسې ليکي:
" تا (صوفيانو) د خپلو ادعاوو د اثبات لپاره د خضر(عليه السلام) په قصې استناد کاوه، په دې اړه څو عرايض لرم: آيا دې ته دې پام کړی، چې دا قصه اصلاً ددې له پاره راغلې، چې وښيي موسی (عليه السلام) په غيب نه پوهېده؟ ! له يوه ملګري سره روان دی؛ خو د هغه د څو کارونو په وجهه او موخه نه پوهېدو !! هيڅوک دا ادعا نه شي کولای، چې ددې کس مقام تر موسی (عليه السلام) لوړ ؤ؟ قرآن خو موسی (عليه السلام) د هغو پنځو پيغمبرانو له ډلې ګڼي، چې هيڅ انسان او هيڅ پيغمبر د هغوی مقام ته نشي رسېدای. تا د قرآن له کوم لفظ نه دا معنا اخيستې ده، چې دا کس په غيب پوهېدو؟ قرآن خو وايي؛ چې له الله تعالی پرته هيڅوک په ځمکه او آسمان کې په غيب نه پوهېږي.

قرآن خو د ابراهيم، موسی، ذکريا، لوط، نوح، يعقوب، محمد (صلی الله عليه وسلم) ... قصې زمونږ مخ ته ږدي، چې ښيي دوی په غيب نه پوهېدل، فرښتې يې په خوا کې ولاړې وې؛ خو دوی د زلمو او ميلمنو ګمان پرې کاوه، د اولاد زېری ورکړ شوی، پوښتنه يې کوله، چې دا زوی به څنګه او څه وخت ورکول کېږي، څو متره اخوا يې زوی په څا کې لوېدلای خو له حاله يې خبر نه دی او له غمه يې سترګې ړندې شوې، د خپل ملګري د کارونو په کومه او حقيقت خبر نه ؤ...

حضرت خضر (عليه السلام) خو معلوم نه دی، پيغبر دی که نه، ځکه په قرآن کې يې نوم د پيغمبر په توګه نه دی راغلی، په يوه روايت کې د موسی (عليه السلام) دا ملګری د خضر په نامه ياد شوی، ته څنګه هغه تر موسی (عليه السلام) لوړ ګڼې او علم غيب ورته ثابتوې؟ ! ! "
( ۲۸:۷ مخ )

فضيلة الشيخ صالح بن فوزان بن عبدالله الفوزان په خپله رساله (د تصوف حقيقت او د صوفيت دريځ د عبادت د قواعدو او دين په هکله) کې داسې ليکي: " د صوفيانو دريځ دومره امتيازاتو سره سره چې اولياوو ته يې ورکړي بيا هم په دې حد ونه درېده، بلکې دوی د اولياء په برخه کې دومره مبالغه کړې، چې اولياء ته يې د ربوبيت صفات ګرځولي دي په دې معنا ، چې په کايناتو کې هر قسم تصرف کولای شي، چې علم غيب ورته حاصل او په عين حال کې د هغو امورو اجابت کوي، چې هغه غير د الله نه بل څوک نشي کولای او داسې اولياء د اغواثو ، اقطابو او اوتادو په نومونو يادوي.

په سختو حالاتو کې په نومونو سره ورته غږونه کوي، ګر چې دوی مړه او غايب هم وي او د دوی نه خپلو حاجتونه پوره کول او مشکلاتو د حل غوښتنه کوي. دوی ته په ژوند کې د تقدس عقيده لري او پس له مرګه ورته عبادت کوي او د دوی په قبرونو باندې ګومبدې جوړوي او د دوی په خاورو تبرک حاصلوي او د قبرونو نه يې طوافونه کوي او د خپلو غوښتنو لپاره ورته په نومونو نارې وهي دا حالت د صوفيت د اولياء د ولايت لپاره د تګلاره ده. "
( شيخ امين ۴۲ – ۴۳ مخونه )

### پايله

د تصوف د تاريخچې او پيدايښت او همدارنګه له اسلام پرته په نورو اديانو کې د تصوف ډېرې پخوانۍ ريښې او په اسلامي امت کې د تصوف د پيدايښت عوامل د تصوف په اړه د مسلمانو عالمانو څرګندونې او د قرآنکريم په مبارکو آيتونو او نبوي احاديثو د تصوف د ناروا والي اثبات. په همدې ډول د ډېرو لويو شخصيتونو اقوال او په مقابل کې د تصوفي لارې پيروانو ضعيف او کمزوري دلايل دا په ډاګه کوي او زمونږ سترګې پرانيزي، چې مسلمان مؤمنان دې د قرآنکريم د ارشاداتو په رڼا کې يوازې په هغه طريقه د لوی او حقيقي رب عبادت وکړي، چې د هغه حبيب حضرت محمد مصطفی (صلی الله عليه وسلم) مونږ ته را ښودلې دي. نه د بې لارې او غلطو خلکو په لارښوونه، چې ناروا عملونه يې په يوه او بله پلمه ځان ته روا کړي دي. لوی خدای (جل جلاله) دې مونږ د قيامت په ورځ د حضرت محمد مصطفی (صلی الله عليه وسلم) په پيروانو کې حشر کړي. و ما علينا الالبلغ

**ماخذونه :**

۱- الفوزان، صالح، دتصوف حقيقت او د صوفيت دريځ د عبادت د قواعدو او دين په هکله، پښتو ژباړه، فياض، شير اياز، آرټ پواينټ، محله جنګي، پيښور ۱۴۲۸ هـ. ق
۲- نقشبندي، علاؤالدين، امين، د تصوف حقيقت او د نقشبنديه طريقې يو بحث، پښتو ژباړه، دوديال، بشير، ميوند خپرندويه ټولنه، لومړی چاپ، کابل ۱۳۸۹ل
۳- الفت، ګل پاچا ، د ټولنې په جوړښت کې د اسلام نقش، دانش خپرندويه ټولنه، دريم چاپ، پيښور ۱۳۸۴ل
۴- ښکلی، اجمل، تصوف او ادب، مومند خپرندويه ټولنه، لومړی چاپ، ۱۳۹۴ل ننګرهار
۵- حکمتيار، د تصوړف په اړه ځينې حقايق، خپرندويه ټولنه معلومه نه ده، لومړی چاپ ۱۳۸۸ل
۶- کشاف، قضاوتپوه الحاج مولوي قيام الدين، د قرآنکريم پښتو ژباړه، د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت، بيهقي د کتاب خپرولو مؤسسه ۱۳۸۵ل
۷- اسحق زی، اورنګزيب:(۱۳۹۴ل ) عرفان او ادب، مومند خپرندويه ټولنه تخنيکي څانګه، جلال آباد ، افغانستان
۸- داتا ګنج بخش، سيد علی، کال: (۲۰۱۰م) کشف المحجوب، ضياء القرآن پبليکېشنز، لاهور

**پای**

## څنګه کولای شو د پرمختګ لوړو پوړيو ته ورسېږو؟

د يوې ټولنې په بيا جوړونه، پرمختګ او سوله ييز ژوند کې د يوه هېواد وګړي د بيلګې په توګه ځوانان تر ټولو مخکښ او زياته ونډه لري، خو دا هغه وخت شونې ده، چې ټول هېوادوال سره يو موټی او يو لاس د همدې موخې لپاره بې سارې هڅې او ګړندي ګامونه اوچت کړي .

د پرمختلليو هېوادونو د بريااليتوب ځانګړنه هم په همدې ټکي کې نغښتې ده. پرمختګ او بيا جوړونه هېڅکله هم په ټپه نه درېږي؛ بلکې هر څومره چې وخت تېرېږي، وګړي د نورو پرمختګونو په لټه کې وي او لا زياتې هڅې او هلې ځلې کوي، تر څو په پايله کې د خپلو زحمتونو نوې لاسته راوړنې د راتلونکو پرمختګونو لپاره وکاروي .

که داسې و انګېرو ، چې د يو ودان او آباد هېواد د تر لاسه شويو پرمختګونو وروسته هر څه په دې خبره په ټپه ودرېږي، چې اوس نو د پرمختګ لوړ پړاو ته رسېدلي يو او نورو ته اړتيا نه لرو ؛ بلکې دا لويه تېروتنه ده.

ځکه داسې وخت به راځي، چې نور ملکونه تر دوی مخکښ کېږي او همدغه يو وخت پرمختللی هېواد بيا د نوې عصر له غوښتنو ډېر وروسته پاتې کېږي. نو ويلی شو ، چې د سوله ئيز او آباد ژوند په سيوری کې، د پرمختګ لارې چارې لټول د ښو او نوښتګرو ټولنو کار دی او هېره دې نه وي، چې په هره ټولنه کې ګڼ شمېر داسې نوښتګر کسان شته، چې د چانس ورکولو او هڅولو په پايله کې ډېر ژر خپله نوښتګري څرګندوي او خپلې لاسته راوړنې عملي کوي.

همدا نوښتګران دي، چې د نوې فکرونو زېږنده ده او پرمختګونه او سرښندنې رامنځته کوي. د رغنيزو چارو د ښه پرمختګ او دې موخې ته د رسېدو په خاطر، تل بايد ځوان او نوښتګرې ډلې ته لومړيتوب ورکړل شي، چې له ځوان فکر سره د هېواد د بيا جوړونې په چارو کې نه ستړې کېدونکې هڅې او سرښندنې وکړي او دې لړۍ ته دوام ورکړي، چې هدف يې د هېواد رغول او ښېرازه کول دي.

دا بايد وويل شي ،چې افغانان د ټينګ عزم او ارادې خاوندان دي او د ګڼو شته ستونزو او کړاونو سربېره بيا هم د هېواد په ګوټ ګوټ کې د بيارغونې سره غواړي د پرمختګ په لور کوټلي ګامونه واخلي، تر څو خلکو ته د هوساينې زمينه برابره شي، چې له يوه پلوه به يو شمېر ځوانانو ته به کاري فرصتونه برابر شي او له بله پلوه به د ډېرو بيوزله کورنيو کمزوری اقتصاد هم مخ په ښه کېدو شي، چې دا به د ځوانانو او نوښتګرانو له کاري لومړيتوبونو څخه وي، چې هېوادوالو ته به يې ارزښتمن خدمتونه تر سره کړي وي.

**ليکنه : بصيره شجاع «ستانکزۍ»**

## په لوګر پوهنتون کې دوې پروژې ګټې ...

دلوګر دولايتي شورا غړی سيد قريب الله سادات وويل، دخوښۍ او وياړ ځای ده، چې نن د لوګر ولايت په علمي مرکز کې د دوو مهمو او حياتي پروژو پرانيسته کيږي.

ده وويل، چې لوګر باب العلم دی، نو موږ ټولو ته پکار ده، چې دخپل ولايت په لا ځلولو کې علمي هڅو ته خوځښت ورکړو.

دعلماو اوقومي مشرانو په استازيتوب حاجي سيد محمد حنيف وينا وکړه او دپوهنتون دعلمي، تخنيکي اودنورو برخو په ساتنه کې د دولتي چارواکو پاملرنې باندې ټينګار وکړ.

حنيف همدارنګه يادونه وکړه، چې دلوګر پوهنتون لپاره بايد دمرستو راټولولو يو صندوق هم کېښودل شي، څو لوګر ميشت سوداګر او شتمن کسان خپلې مرستې دلوګرپوهنتون سره ترسره کړي.

دلوګر پوهنتون دزده کړيالانو په استازيتوب هاند احمدزي خبرې وکړې، دلوګر پوهنتون زده کړيالانو ستونزې او همدارنګه دلوګر پوهنتون ته دغځيدلې لارې د سړک رغولو يادونه وکړه، چې بايد دغه سړک د زده کړيالانو دتګ او راتګ لپاره په پاخه او اساسي ډول جوړ شي.

د وينا و په پای کې لوګر والي الحاج محمد انورخان اسحاقزي وينا وکړه وې ويل، که غواړئ، چې نړيوالو سره ځان سيال کړو، نو په خپلو ماشومانو زده کړې وکړئ او ځانونه د پوهې په ګاڼه سمبال کړئ.

اسحاقزي په هيواد کې دڅو کلونو ناورين دناپوهۍ بيلګه ياده کړه، ويې ويل، چې نن د پوهې او ټکنالوژۍ وخت دی، بايد چې زموږ هيوادوال دبسياينې په لوري ودرومي.

دلوګر يوتن جهادي قومندان محمد يحی لشکر دلوګر پوهنتون سره ديوې عرادې موټر دمرستې ژمنه هم وکړه، چې دخپل توان له مخې ياده مرسته له علمي مرکز سره ترسره کوي.

دغونډې په پای کې دلوګرپوهنتون درهبري پلاوي لخوا دلوګر والي، مرستيال والي، قومي مشرانو ته لنګۍ پر سر او نورو دولتي چارواکو ته ستاينليکونه ورکړل. **اميني**

## ګنبد ملک سبز علی صاحب

در سمت شرقی قلعه آخندها از مربوطات دِه کلنگار در مساحت ۲۴۰متر مربع و به ارتفاع حدود هشت متر، بنای تاریخی مشهوربه مزار ملک سبزعلی صاحب واقع بوده که به صورت گنبدی با شیوه معماری آن زمان از خشت پخته، خشت خام و کاه گِل بنا شده است.

چهار اتاق های خورد( مجاور خانه ) در دو منزل به صورت گنبدی در دو کنج شرقی گنبد ساخته شده است. در سمت شمال گنبد در فاصله چند متر، مزار حضرت صوفی صا حب نواسه ملک سبزعلی و مزار ملک ثانی خان پسرملک سبز علی میباشد. درلوحه سنگ نبشته که در داخل گنبد قرار دارد چند بیت از غزل (بیا که قصر اَمَل سخت سُست بنیاد است. ) از حضرت حافظ شیرازی و تاریخ ۹۲۷ حکاکی گردیده است. چهار گهواره سنگ بزرگ با تراش و حک نمودن نوشته ها بالای مزار شان گذاشته شده است که یکی از گهواره سنگ ها مزار ملک یوسف پدر ملک سبز علی بوده و تاریخ وفات ملک ملکین ملک یوسف ۹۲۱ هـ. ش و در مورد تاریخ وفات ملک سبزعلی در گهواره سنگ بالای مزار شان دو فرد بیت نوشته شده است:

چون ذات ملک سبز علی گشت حبا
از دار فنا رفت سوی ملک بقا
تاریخ وفاتش ز خود پرسیدم
گفتا که بَوَی ( بهشت روزی بادا )

در حساب ابجد ( بهشت روزی بادا ) جمعاً عدد ۹۳۸ را نشان میدهد.

در حالیکه در آن وقت سرک و وسایط نقلیه نبود این گهواره سنگ ها چطور و به چه وسیله آورده شده است به گفته بزرگان و موسفیدان این گهواره سنگ ها توسط فیل ها انتقال گردیده است، که این خود مقام و منزلت شان را نشان میدهد که چقدر نزد مردم و منطقه محبوبیت و عزت داشته و اکنون هم نزد مردم احترام و محبوبیت دارد مردم محل و حتی از ولایات دیگر به زیارت این مزار و اتحاف دعا می آیند.

با وجود که از اعمار گنبد پنجصد سال میگذرد، نمای درونی و اصالت تاریخی و فرهنگی داخل گنبد و نمای بیرونی سمت دروازه آن تا حال باقی مانده اما قسمت لنگرخانه در سمت شمال و راه زینه بام در سمت جنوب گنبد در جریان جنگ ها و اصابت مرمی های هاوان و عوامل طبیعی صدمه دیده بود که به اثر سعی و همکاری مردم محل دوباره به شیوه امروزی ترمیم و بازسازی گردیده است. جناب ملک سبز علی جَد خواجه های عباسی میباشد ، در رساله ( زنده گی نامه ملک سبز علی ) که در سال های اخیر به چاپ رسیده است اسم اصلی شان علی بوده مشهور به ملک سبزعلی ولد ملک یوسف از دود مان سلطان غیاث الدین غوری در سال ۸۵۲ هـ. ق در غور متولد شده و در سال ۹۳۸ هـ. ق به عمر ۸۳ سالگی در کلنگار لوگر وفات نموده اند. سلسله نسب شان بعد از بیست دو پشت به حضرت عبدالله شاه مفسرین (رض) بن حضرت عباس(رض) کاکای حضرت محمد مصطفی(صلی الله علیه وسلم) میرسد به همین دلیل اولاده شان بنام خواجه های عباسی معروف اند. ملک سبز علی بمقام ملوکیت رسیده بود و حدود ده سال در غور در رأس امارت غور قرار داشتند.

جناب ملک سبز علی در سال ۹۱۵ هجری قمری با اهل و بیت وپدرش در حدود ده ها خانواده و اهل کسبه از ولایت غورمجبور به مهاجرت گردیدند و منطقه کلنگار لوگر که دارای دریای خروشان و خالی از سکنه بود محل مناسب دانسته و زندگی را آغاز نمودند.

ایشان در حدود بیست و سه سال در لوگر زندگی نمودند و در طول این مدت زمنیه اعمار بند آبگردان، شرایط کشت و زراعت، اعمار قلاع و آسیاب ها را مساعد ساختند و همچنان ده ها فامیل محلات دیگر درین محل آمده و یک فضای صلح و همبستگی را در بین مردم ایجاد نمودند.



در ولایت لوگر بعد از ملک سبز علی تا کنو ن چهارده نسل زندگی نموده و می نمایند.

با کثرت نفوس و ضیقی محل، نواده هایش در محلات مختلف زندگی میکنند. تعداد از نواده های شان اکنون هم در همان قلعه اصلی زندگی دارند. **صمیم واحدی**

## کارساخت تعمیر یک مکتب درلوگر آغازشد

پل علم باختر25حمل:
کارساخت تعمیریک مکتب به هزینه نوزده میلیون افغانی درولسوالی ازره لوگرآغازشد که هزینه آن از بودجه دولت جمهوری اسلامی افغانستان پرداخت میگردد.

شاپورعرب سخنگوی ریاست معارف میگوید که تعمیر لیسه ذکورچوتره درولسوالی ازره لوگر به اساس هدایت محمد اشرف غنی رییس جمهورجمهوری اسلامی افغانستان ساخته میشود.

آقای عرب علاوه کرد که این تعمیر چهارده صنف درسی، دو اتاق اداری، چاه آب آشامیدنی وشامل سایرملحقات ضروری آن میباشد که درمدت شانزده ماه ازسوی شرکت ذاهد ذبیح اعمارخواهد گردید.

درحال حاضردر لیسه ذکورچوتره هفتصد دانش آموز مصروف فراگیری علم ودانش میباشند.

این درحال است که مشمول ساخت تعمیر دومکتب درولسوالی ازره، کارساخت 94 باب مکتب جریان دارد و تاختم سال جاری تکمیل خواهد گردید. **محمد زاهد سلطانی**

## لوګر کې د ۵۵۰۰ غيرې ميوه لرونکي نيالګيو کينولو چارې پيل شوې

دوري ديارلسمه: په لوګر ولايت کې ۵۵۰۰ غير مثمر نيالګي چې د مرکزي زون او پل علم ښاروالۍ له لوري ياد ولايت ته ځانګړي شوي ، د کښنولو لړۍ يې پيل شوه .

د نيالګيو کښنولو په مراسمو کې لوګر والي الحاج محمد انورخان اسحاقزي،ولايتي شورا رييس حسيب الله ستانکزي،د يادې شورا منشي عدالت عبدالرحيمزي، پل علم ښاروال نصير احمد لليزي،د دولتي ادارو مشرانو او له مرکز څخه راغلي د مرکزي زون پلاوي ګډون کړي ؤ.

دغه غير مثمر نيالګي د مرکز په شمول په محمدآغې او خوښۍ ولسواليو کې کښنول کيږي، چې ۳۵۰۰ د مرکزي زون او ۲۰۰۰ نور يې د پل علم ښاروالۍ لخوا ياد ولايت ته ځانګړي شوي دي.

لوګر والي الحاج محمد انور خان اسحاقزي له ګډونوالو وغوښتل چې د لوګر پاکي او نظم ته پام وکړي او د ياد ولايت د ښېرازۍ او آبادۍ لپاره د خدمت لستوڼي را ونغاړي.

هغه وړاندې پل علم ښاروال ته هدايت وکړ تر څو د نيالګيو سمه پالنه او روزنه وکړي او تر څنګ يې نيالګيو ته پر وخت اوبه رسونه تر سره کړي. **دلوګر رسنيز مرکز**

## به ارزش نزدیک به چهار میلیون افغانی سی وشش ...

محفل که به همین مناسبت تدویر یافته بود نخست عبدالله تسل رییس زراعت، مالداری وآبیاری ولایت لوگرپیرامون موضوع صحبت نموده گفت:این 36باب گرین حوض که در ولسوالی خوشی به همکاری مالی برنامه افغان اید به ارزش نزدیک به چهار میلیون افغانی ساخته شده است، با افتتاح آن یک گام دیگر در میکانیزه شدن زراعت برداشته شده است.

تورن جنرال محمد نبی احمدزی معاون مقام ولایت لوگر افتتاح گرین حوض ها را برای زارعین ولسوالی خوشی تبریک گفته افزود که کار دربخش معارف ،زراعت ومالداری از جمله الویت های کاری ایشان است وتمرکز بیشتر به آن خواهد نمود.

آقای احمدزی علاوه نمود که دربخش زراعت وفراهم سازی تسهیلات بیشتربرای کشاورزان توجه جدی خواهد کرد.

همچنان مسوول برنامه افغان اید در مورد فعالیت های شان معلومات داده گفت که 169 قریه را درمرکز وولسوالی خوشی تحت پوشش خدمات شان قرارداده است، وی تصریح کرد که پلان های بیشتر را در راه پیشرفت لوگر روی دست دارند. **محمد موسی عدیل**